چنانكه درمقاله نخستين آمده است دولت (به مفهوم قوه مجريه ،هيئات دولت وياقدرت سياسي) بااستفاده ازقوه فشد باجباروزورياتيروي مادي ، اعمال حاكمست چون اردو پوليس وپوليس مخفي «كلسازماني هاي سياسي، اقتصادي واجتماعي اعمال صلاحيت مي نمايند .

درمورد برخورد حقوق بين الملل اسلامي بادولت (كشور) نيز مشاهده مي كنيم كه نفوس ، جمعيت ويارعيت راعنصرمادي وحاكميت ياوملك » (به تعبيرابن خلدون درالمقدمه) راعنصرمعنوي ياحقوقي دولت مي داند. اسلام سرزمين قلمروياخاك را نظربه دلايل گوناگون ازعناصرعمده تشكيل دولت نمي داند . » اساساً سرزمين رانمي توان درتحليل دقيق علمي، عنصرسومي ازعناصرتشكيل دهنده كشورداشت.ماگفتيم هرگز ترديدي وجود نداردكه سرزمين يكي ازشرايط لازم براي زيست كشوراست، امااينكه آيا شرط تحقق وبوجودآمدن آن هم مي باشد يانه ، دراين باره ازسوي دانشمندان حقوق بين الملل هرگزاتفاق نظروجودندارد . به گفته ديگرمادريك تحليل دقيق حقوقي، هرگز به اين نتيجه نمي رسيم كه بايد سرزمين رايكي ازعناصرتشكيل دهنده كشورتلقي كنيم . سرزمين رامي توان به عنوان فضاي لازم براي ادامه زيست يك كشور، يعني جايي كه اوبتواند صلاحيت هاي خود رااعمال كندتلقي كرد. ولي هرضرورتي لزوماً جزء ماهيت شي نخواهدبود . حقوق بين الملل اسلامي تأليف سيدخليل خليليان صفحه ۱۵۳ » .

دراخير يكباردیگرخوانندگان ارجمندرابه بازخواني هردومقاله مورد بحث فراخوانده وقضاوت رابه آنان ارجاع مي نمايم .

دلاری موقتی پرانستل...

دکپ (۲)

دهیواد صدراعظم اودحزب اسلامي مجاهد امیرورور حکمتیارتیره ورځ له امریکاغږ سره په مرکه کي دکابل -جلال آباد لاري دبندیدلواوپرانستلو اوهمدارازدهیواد دروانی ستونزي دحل په اروند لازم توضحیات ورکړل ویې ویل :

بسم الله الرحمن الرحیم

متاسفانه چي دکابل دحالاتو په وجه ددي تحمیلي جګړي په سبب لاري بندي شولي ، موږ غواړو هرڅومره ژر چي ممکن وي دالاري پرانستل شي اوس چي داجګړه پای ته نه ده رسیدلي موږ تصمیم نیولي چي غذایي مواد دکابل ښاریانو دمشکلاتو دحل لپاره نژدي سیمو ته ورسوو او هلته به مارکیټونه جوړیږي هغه زیاته کړه په جاده میوند مکرویان دهمزنګ اوکارته (۳) په دغو سیمو کي موږ دمارکیټونو دپرانستلو فیصله کړي ده دغو سیمو اومارکیټونو ته خیریه مؤسسات اوتجارغذایي مواد وړلای شي.

اوله همدغو ځایونو څخه به توزیع کیږي .پدي ترتیب به دولس مشکلات حل شي . اوترکومه ځایه پوري چي دټولو لارو پرانستل دي زموږ نظر دادي چي مؤقتي پرانستل گټه نکوي بهتره داده چي دایمي اوریند امضا شي مسئله دتل لپاره حل شي ،جګړه دتل لپاره پای ته ورسیږي رئیس جمهور استعفا ورکړي سابقه حکومت منحل شي ، پرځای یې یو مؤقته اداره جوړه شي ،کابل غیر نظامي شي ، اوله کابل نه ټول مسلح قطعات ووځي .

اوبیا ددي موقت حکومت ترنظارت لاندي عام انتخابات ترسره شي اوملي اسلامي اردو اساس کیښودل شي .

ده وویل موږ غواړو چي دامؤقت حکومت دداسي شخصیتونو نه جوړشي چي هغه د آینده لپاره کاندیدنه وي په انتخاباتوکي برخه وانخلي رهبران پدي حکومت کي غړیتوب ونه لري اواحزابوته متعهدکسان هم پدي حکومت کي نه وي.

ورورحکمتیار زیاته کړه داحکومت کاملاً دداسي شخصیتونو د جوړشوي وي چي ټولو ته دمنلو وړ وي او دهغوترنظارت لاندي چي کوم انتخابات ترسره کیږي دنتایجو په نسبت یې څوك شك ونکړي څوك داسي فکر ونکړي چي دوي دځپل اقتدار ته په استفادي سره دځان لپاره یادځپلي دلي لپاره سواستفاده کړي.

ورورحکمتیار پدي باب چي ایا تاسو په خلکو غذایي موادته بندوي؟ وویل :

زه باید ووایم چي ددي پلان مطابق تقریباً (۹) امنیتي حوزوته غذایي موادوررسیدلي شي او صرف دري ناحیي پاتي کیږي داهغه ناحیي دي چي په هغوکي شوراي نظار اود هغو کمونست ملګري تسلط لري .

ورورحکمتیار وویل موږ غواړوچي ددغوناحیودخلکوسره هم مرسته وشي او هغه په دي شکل چي بیوزلي ،محتاج اونیازمند خلك به راځي اوله همدغوهمجوارو ناحیو نه به ځپل ضروروتونه رفع کوي.

هغودریو ناحیوته پدي خاطر دلارودآزادپریښودلو سره موافق نه یو چي ائتلافي اداره له دي نه جنګي استفاده کوي اوځپل جنګي پرسونل اکمالوي.

دهیواد محترم صدراعظم ددي پوښتني په ځواب کي چي ایا له شمال څخه رباني اودهغه پلویانو ته مواد نشي راتلای وویل : دوي چي دکومي فتني اور بل کړي وو له همغه نه دراولارشویومشکلاتو سره اوس په ځپله مخامخ دي . هغوي غوښتل چي شمال اوجنوب سره وجنګوي داقلیت اواکثریت فتنه راولاړه کړي، شعبه اوسني په ځپلو منځونو کي سره واچوي ، پښتون ،تاجك اوازبك سره وجنګوي دځپل اقتدارلپاره اوځان داقلیتونو دحقوقومدافع وګرځوي اماهمدغه داقلیتونو دحقوقو مدافع وو چي یونیم کال یې دهزاره ګانو سره خونړي جګړي ترسره کړلي چند اول یې بمبارد کړل ،کارته (۳) اوکارته (٤) ي وراتکړل ، افشار اودشت برچي یې وران کړل اوهمدغه یې وبل یې موږ دشمال ټاینده ګي کوو اوپه همدي خاطر یې دامتیازاتو مطالبه کوله دادي اوس یې له ازبکوسره یوي بلي جګړي ته ملاتړلي دهمدي په وجه دشمال لاراوس په هغوي بنده ده اوس هغوي دشمال نه آکمالات نشي کولای ورورحکمتیار پدي اړه چي کله به تاسو غوږ بري ترلاسه کړي وویل :

باید، عرض وکړم چي اوس هغه سابقه تعادل له اساس نه بدل شوي تا سو ته معلومات شته چي ځلورمسلح قوتونو نه دري اوس یوطرف ته دي اویوبل طرف ته دي.

اوپدي کي هیڅ شك نشته چي اوس په عسکري طورقضیه کاملاً دشوراي همانګي په ګټه ده . خوموږ نه غواړو چي قضیه دي دجنګ له لاري حل شي . دي ته ترجیح ورکوو چي دخبرو اترو له لاري دمستلي لپاره یومعقول حل راپیداشي.

ده وویل که خبري اتري ناکامي شولي اومقابل طرف دسابق په شان بیا هم په جګرو اصراروکړ اویوځل بیادجګړي اوربل شو بیا به تاسو تمولوته معلومه شي چي عسکري وضعیت څنګه دي تعادل دچاپه ګټه دي دجنګ له لاري دمستلي حل ممکن دي که نه ؟

ورورحکمتیار زیاته کړه حقیقت دادي چي اوس جنګ سل په سلوکي دهغوي په ضرردي موږ غواړوچي مسئله دخبرواترو له لاري حل شي اودهمدي لپاره مواوریند مثلي . دهمدي لپاره مو دسولي هیئت ته اختیارورکړي له هغو سره موډهرراز مرستي ژمنه کړي . اطمینان موورکړي چي موږ له تاسو سره دسولي په راوستلو کي اودجګړي په فوري خاتمه کي همداراز تعاون ته تیاریو.

ده وویل دسولي دهیئت اساس خو دکابل دقوماندانانو جهادي شورا ایښي ،وروسته بیاد مولوي صاحب حقاني ترمشري لاندي یوشمیرمصلحین چي له اوږدي مودي رادیخوا په همدي فکرکي وو هغه هم راغلل دکابل دقوماندانانو سره یوځای شوي دي اوس هغوي هم ځپل کارپه ګډه تعقیبوي . هغوي هم یوه طرح ترتیب کړي چي پدي جهت کي څه قدمونه هم اوچت شوي داهیئت مصر وف دي اوامیددي چي دهغه په کاریاندي مثبت نتایج مرتب شي.

ورورحکمتیارددي پوښتني په ځواب کي چي یې طرفه کسان به بیا دتاسواوجمعیت له خواتعینیږي اوله هغوي څخه به بیایو بې طرفه حکومت جوړیږي اوکه څنګه؟ وویل زه باید ووایم چي مادیې طرف خبره نده کړي.

مادداسي خلکوخبره کړي چي ټولو ته دمنلو وړوي گمان کومه چي داسي خلك په افغانستان کي ډیرزیات وي.

ده وویل دا دسولي هیئت هم ماته وویل چي ایا داسي کسان پیداکیداي شي؟ ماورته ویل زه یې ستاسو له ولې نه هم پیداکولای شم لاریې هم داده چي دداسي کسانو لپاره څه مواصفات وضع شي بیادي هرتنظیم ته وویل شي چي دځپل تنظیم نه بهر داسي کسان معرفي کړي چي هغه ته دمنلو وړوي .بیا دهمدغو حزبونو له منځ نه دي دیوي کمیټي په ذریعه داکسان انتخاب شي.

ده وویل هدف دادي چي داسي یوحکومت جوړشي چي هغه دیوه حزب په ګټه کارونکړي ،په هغه باندي دټولو اعتمادوي هغه دقدرت لپاره کاندید نه وي په کشمکشونو کي برخه ونلري اودهغه ترنظارت لاندي چي انتخابات ترسره کیږي،دهغه په نتایجو باندي دټولو باوروي اوڅوك شك اوشبهه ونکړي اوهغه وتوانیدلای شي چي دملك لپاره دیوه اسلامي ملي اردواساس جوړکړي.

دحوت...

شوي وي بالعکس کابل یې دځپلوظلمونواووحشت' اوبروآك باندي دځیټي اچولوبخاطرپیداسي کنبواله بدل کړ چي نه روغ کورپاته شو اونه یې اوسیدونکي، که د۱۳۵۸ کال دحوت په دریمه نیټه دملت دلوټېترونه دیرغلګرځواك په مرمیوغلبیل اویه ځپلوباکوریتوکي ولمبول شول نودادوهم حوت دریمه نیټه ده.چي دکابل ښاردرباني، مسعود اوددوي دکمونستوجنرالانوله لاسه دوینوتوبیدو،ورانۍ او اوسیدونکوپي ورڅخه په تیښته تښتیدولري روانه ده .

نه پوهیږوچي دابیوزلي ملت به دهمدومره جزاء لیدلوورړي چي دشریك واك دخاوندانو دواك غوښتني اوبرلاسي دترلاسه کولو داوریه لمبوکي سوزي !! خونه! پدي کي دملت جرم نشته څکه تردي دمخه هم داملت دهمدي اوریه شان دروسي داره مارانواودکمونست رژیم دشرمیدلو اوسرتیتوبرپخودبل کړي اوریه لمبوکي سوزیده . په هغه وخت کي هم دملت ګناه داوه چي هغوي هغه څه نه غوښتل اونه یې زغملای شواي کوم چي روسانواودهغوي لاسپوځي رژیم تري غه لرله چي نن هم ملت دهمغي ګناه په مرتکب کیدوسره دواك اوبرلاسي غوښتني داور دجزاء ورکولوسزاوارګڼل کیږي ، که داسي نه وي نوپله کومه وجه خوبي نه ترسترګوکیږي که مسعود ،رباني اوپه واك کي ورسره شریك کمونست جنرالان ملګري پدي فکروي چي ګرندي په زوریه دځپلي شریکي واکمنې مراندي تینګي کړونودشریکي محدودي واکمني له اولي ورځي څخه دي تردانئه پوري ونښي چي یې له لوټماري، ویراني، وینوتویولواودکابل دښاریانویه کډه کولو له مجبوریت پرته یې نورڅه په لاس راوړل، آیادتیروڅومیاشتوراهیسي دیوي شیبي لپاره یې هم دارام ساه اخیستي ؟ ګردهیوادخولاپریږده، چي دکابل په ښارکي دکومي شیبي باورځي لپاره امنیت هم پرځای کړي ؟!

دهیوادتولي لوي لاري دهغوجهادي ځواکونویه کنټرول کي دي چي دکابل ښاردشریك واك دخاوندانوښکاره مخالفین دي.

رباني ،مسعوداودواك شریکوکمونستواندیوالانوته یې دتیروخوارلسوکلونواوهم دځپلي څومیاشتني تش په نامه واکمني موده کي دژوندپه دګرکي دیري تجربي ترلاسه شوي وي اودایي هم ولیدل چي روسانودزورله لاري ونشواي کړي پرملت باندي دزورحاکمیتونه ومني اوملت دي دزورله لاري دهغوي منلوته تن ورکړي نونن به څنګه دزورله لاري وران شوي کلي په زورجورکړي اوترکومه به یې دجنګ لاره نیولي وي نوچي ته په زورکلي جوړیږي اونه په وینوتویولو خلك داروليْ اوزړونه خپلیدلاي شي نوپکاردادي چي دملت غوښتواوپرېکړوته تن ورکړشي، پرافتخاراتوبي خاوري وانه روړل شي په حق ویلواوحق غوښتلوبي ستوني خپه اوژبه بي غوڅه نشي، دحماسوتاریخ بي په مرمیوغلبیل نشي دواك غوښتني دغریزي خنجرد تبریه خبریبابي پرټوټوزخمونه جورنکړي، اونه یې له سرڅخه دغرودي اورلمبي پورته شي .

نورداویرژړلي، پرهارژلي اویه وینولت پت ملت دیته مه اړباسي چي دنورویه دروازوکي وډریږي اویه تاریخي افتخاراتواوکارنامویي خلك مسخري اوملندي ووهي، او دوقاراوویارګڼلي برم یې دبنګي په خبرسبك شي .

دنصیرالله بابریه...

متعلمینوسره دافغانستان سفارت ته لاړشي، دخبروتوله مخي ویل کیږي چي دسفارت په دننه کي هم خبري رواني وي .

ترورریستانودتیښتول شوروخوشي کیدولپاره خپل شرایط داسي ښودلي چي ، دتورخم لاره پرانستل شي،کابل ته دي ۲۰۰۰ لاري غذایي موادولیږل شي سربیره پردي دي دوي ته پنځه ملیونه امریکایي دالراویوهلیکوپتروورکړل شي چي دوي مصئون ځاي ته ورسوي .

خودپاکستان دکورنیوچارو وزیروایي چي دوي دترورریستانو وروستي دوي غوښتني نه دي مثلي ، خودایي ویلي چي کابل ته دغذایي موادوپه رسولوکي مرسته کولای شي . په خبرکي داهم ویل شوي چي خوشي شوي ماشومان په یوه خاصه الوتکه کي له اسلام آبادڅخه پېښورته ورسول شول.

برادرحکمتیاربا...

واساسي ازجمله تأمين آتش بس دركابل مورد بحث وتبادل نظرقرارگرفت .

خبرنگارشهادت ميافزايد برادرحكمتيارصدراعظم كشورروزدوشنبه محمدزمان قوماندان محاذملي درجلال آباد رابراي ملاقات بحضورپذيرفته، پيرامون اوضاع جاري كشوروبعضي مسايل مورد علاقه بحث وتبادل نظرنمودند .

سيد قمر عباس...

داشته اطفال رهاشده راباطياره خاص واعزازلازم به پشاوررساند ، طي يك مصاحبه باخبرنگاران گفته است كه درحادثه' گروگانگيري دست افراد شوراي نظاردخيل مي باشد .

منبع علاوه نمود: قرارمعلوم منابع سفارت افغانستان دراسلام آبادازمسعود خليلي يكي ازاعضاي مهم شوراي نظارخواسته است تاباربايندگان به تفاهم برسد. تاحوالي شام ديروز معلوم نشد كه ربايندگان ومنابع امنيتي اسلام آباديراي ختم اين معضله به چه فيصله يي ميرسند

"ازگپ ،گپ مي خيزد"

اتحاد : سگهاجسدمليشه هارامیخورند .

شهادت : ازكجامعلوم كه اين اجسادمليشه هاي شماست ويااز ديگران

اتحاد : استاد توانا گلم جم شد .

شهادت : حرفي نيست ! اونقش قدم رباني ومسعودراتعقيب نموده است !

اتحاد : توانا دركناردوستم دردرازمدت براي حزب اسلامي خطراست .

شهادت : آفرين براين دلسوزي ، پس راه اوراتعقيب كن !

اتحاد : مسجد جامع اهل تسنن درمشهدبه امرمقامات ايران به شهادت رسيد .

شهادت : اينرابگوئيدكه دركابل چندمسجد اهل تسنن بخاطركج بودن قبله اش به امرمقامات شمابه شهادت رسيده است !!

اتحاد : ازبكستان درامور داخلي افغانستان مداخله مي كند (سياف) .

شهادت : باكي ندارد ،توافقات رباني - كريموف عملي مي شود !

راديوكابل : استادتواناتوسط افرادوستم اختطاف شده است (عزيزمراد)

شهادت : خداكند همين دروغ آخرين دروغ جنابعالي باشد .

اتحاد : زمانيكه طيارات دولتي مواضع حزب اسلامي را درسروبي وتگاب بمباري كرد ، حزب اسلامي نتوانست دربرابرآن مقابله كند وتنهابه محكوم كردن آن اكتفا نمود .

شهادت : اين هم تناقض گويي ديگراتئلافي ها ، رباني ازبمبارد هوايي سروبي وتگاب انكاركرد مگرسياف آنرا تائيدمي نمايد .

اتحاد : افراد برجسته شهادت به دولت پيوسته اند .

شهادت : نه بابا! اگربرجسته مي بودند بارفتن آنهابه دولت كارانتشارشهادت متوقف مي شد!

اتحاد : به دهها وحتي صدهاتن ازافرادسطوح بالايي حزب اسلامي به دولت خصوصاً به جمعيت پيوسته اند .

شهادت : ازآن جمله يكي هم مولوي عبدالرحيم ختجاني بودكه اخيراً اين ادعارا افترا وبهتان محض خواند !

بهرصورت ازبركت پيوستن آنهابودكه استادرباني مسكين ازقصرریاست دولت به زيرزميني هاي دكوزنداني گرديد .

روزنامه وحدت : افغانان دي قيادت په شريكه ونكي (حاجي قدير)

شهادت : اول خودا اوسني قيادت په شريكه له منځه يوسي !

خوازه ترخه

له انجنیراحمدشاه نه یوه پوښتنه

ستامشکل له حزب سره دي اوکه له ...؟

عبیدالله ایل

ځوورځي وړاندي داتحاداسلامي مرستیال انجنیراحمدشاه احمدزي دمولوي نصرالله منصورودمړیني دلومړي کلیزي په مناسبت جوړشوي محفل کي یوځل بیا دځپل ضمیرخلاف هغه څه زمزمه کړل چي عملي چال چلندیې پري دبطلان کرښه راکاږي . داتحاددجریدي په حواله احمدشاه په دغه محفل کي پدي خبره زورورکړي چي « موږله حزب اسلامي سره مشکل نه لرو، خوله دوستم سره چي کمونیست جنرال دي اوریندنه چمتونه یو» پدي هکله موږدووټکوته اشاره کوو . لومړي خوداچي احمدزي صاحب دځپلي سلفي اووهابي عقیدي په خلاف دمړو اوژوندیودکلیزویه نمانځلوکي چي دوي یې بدعت اودتوحید داصل مخالف بولي ګډون کوي، خوځرنګه چي دغه سیاسي موحدینوته سیاست تر عقیدي او ترهرڅه څه زیات ارزش اواهمیت لري، نوموږیې هم نه ګرمو. خوداپوښتنه ضرورتري کووچي اي محترمه ! تاته خودابه ترامعلومه ده چي ددغه شخصیت دمړیني په کلیزه کي چي تابرخه اخستي اودعقیدت پیرزوینې ورته وړاندي کوي ، جنرال دوستم ته ... دخالدبن ولیدلقب ورکړي اویه درګاه کي یې ودریدلي و اوحتي ځیني خولاداوایي چي نوموړي دهمدغه عقیدي قرباني هم شو. خوته بیاپه کوم اساس هم دوستم کمونست اوکافربولې اوهم دمولوي صاحب منصور په کلیزه کي برخه اخلي، آیاستاوجدان په ځپله له تاڅخه څه پوښتنه نه کوي ؟

دویمه خبره چي ته اوستاپه شان نورفرصت طلب عناصر رباني - سیاف - مسعوداو.... پري اصرارکوي اووایي چي « موږله حزب اسلامي سره هیڅ مشکل نه لرو، خوله جنرال دوستم سره چي کمونست دي مصالحي اواوریندته چمتونه یو » آیادا خبره هم دوجدان په تقاضاکوي ؟

موږته اوملت ته خوچي څومره معلومه ده اوستاسي دتیریونیم کال اعمال پري شاهددي ، ستاسي خبره اوعمل یوله بل سره اړخ نه لګوي. که لږهم دخداي په خاطرشاته وګوري اودتیریونیم کال تاریخ ترنظرتیرکړي ایا هغه صحنه به په نظردرنشي چي تاداخلي چارو دوزیریه حیث دجنرال دوستم دمعاون جنرال مؤمن سره یوځاي دتصفیوي عملیاتویه نامه مجاهدین له کابل ښارڅخه ایستلوته مجبورول !

ته چي اوس داخبره کوي چي موږ له جنرال دوستم سره اوریندته چمتونه یو، نوبیا داتیریونیم کال له هغه سره ائتلاف اومصالحه دڅه لپاره !! آیاپه دغه موده کي ستاله مبارکي خولي څخه یوه خبره هم دجنرال دوستم اوملیشي په خلاف راوتلي، آیاهمداته نه وي چي ویل به دي، نوریه افغانستان کي ملیشه نشته اوهرڅاپخپل توان دنجیب دحکومت په راپرځولوکي هلي ځلي کړي، بلکه پوښتنه داده چي آیاته هغه وخت چي جنرال دوستم دجمهوري ریاست کفیل و دحکومت غړي نه وې، آیاتادااعتراض په نامه استعفی وړاندي کړي اویادي غږپورته کړې؟ دایونیم کال دجنرال دوستم ځواکونه داسلامي اردوبرخه نه بلل کیدل، مصارف اومعاشونه یې نه اجراکیدل ؟ آیاهغه دجمهوررئیس په فرمان داسلامي جنبش په حیث په رسمیت نه وپیژندل شوي ، ایادجنرال دوستم ټاینده ګان ستاترڅنګ دحل وعقدپه شوري کي ناست نه وو؟ بیشکه چي داهرڅه وشول اوکیدل . نوبیا ته ولي چپ وې ؟ ته چي اوس ستوني شلوي او داخبره کوي چي ګواکي دوستم کمونست دي نوپه تیریونیم کال کي داپوښتنه ستاسي سره ولي مطرح نه وه ، دویمه داچي همدااوس له جنرال بابه جان سره ستادوستي دڅه په خاطر، آیاکمونست جنرال بابه جان دګارنیزیون قوماندي په غاړه نه لري او په اصطلاح ستاسي مجاهدین دهغه ترقوماندي لاندي دحزب په خلاف جګړه نه کوي ؟ ایا دخادټوله کمونستي جاسوسي شبکه ستاترڅنګ نه ده ولاړه ؟

داخوشودقضیي یوارخ .

ستادخبري دبلي برخي په اړه چي وایي ګواکي موږله حزب اسلامي سره مشکل نه لرو، بیا داپوښتني پیداکیږي چي آیاته اوستاتنظیم په تیریونیم کال کي دحزب په خلاف دجوړشوي ائتلاف حامي اوملاترنه وې؟، آیادکمونست جنرال بابه جان، آصف دلاور،نبي عظیمي ترڅنګ مودحزب په خلاف جګړه کي برخه نه ده اخستي ؟ آیا دتصفیوي عملیاتویه نامه مو دحزب پرسنګروته یرغلونه ونه کړل ؟ آیادتګاب په جګړه کي دي ځپل جنګیالي دبابه جان ترقوماندي لاندي دحزب په خلاف ونه جنګول ؟ همدارازپه سیاسي اړخ کي همداته دحزب دختمولو هلي ځلي نه کوي، آیادتحریکاتویه نامه دي دحزب په خلاف صف جوړنه کړ له حزب څخه مرورودحزب په خلاف په ټبرکي نه تیسي .

آیادحل وعقدجعلي شوري همداستاسي په ابتکاردحزب دتجریدلپاره جوړه نه شوه اووروستي داچي همداتا دانجنیرحکمتیاردکابینې دیووزیرپه حیث دحکمتیارترمشرتابه لاندي دکابینې په غونډوکي په چهارآسیاب' ولې برخه نه اخیسته ؟

دپورتنیوپوښتنواوخبروپه رڼاکي اوس قضاوت ځپله ستاوجدان ته پریږدوچي رباني ، سیاف، مسعود ،بابه جان اونوراندیوالان اوځلیفان موله حزب سره مشکل اوعناد لري اوکه له بل چاسره اوداجګړه مودحزب په خلاف شروع کړیده اوکه د ...؟

هندموشك ميان بردش را آزمايش نمود

دهلي - ۲ حوت :

هندوستان روزيك شنبه موشكي را مورد آزمايش قرارداد كه ميتواند بيشترخاك آسيارا هدف قراردهد .

كارشناسان دفاعي هندوستان ميگويند باآزمايش موفقانه موشك بالستيك « آگني » هندرادرردیف كشورهاي آمريكا، فرانسه انگلستان وچين قرارميدهدكه ازموشكهاي دوربرد برخورداراند .

اين موشك بالستيك ميان برديك تن موادمنفجره را به مسافه ۲۵۰۰ كيلومترانتقال ميدهدكه بيشترخاك چين رادرشمال وجزيره عربستان سعودي رادرجنوب هدف قرارميدهد. اين سومين آزمايش موشك مذكوراست كه سه باربه تعويق افتاد .

اين موشك ازساحل بحرهند درمسافه يكهزاركيلومتري به هدفي درخليج بنگال انداخته‌شد .

مقامات وزارت دفاع امريكا اظهارداشته اندكه طي پنجسال آينده جنوب آسيابه منطقه يي تبديل خواهدشدكه بيشترين مبادلات اتمي درآن صورت گيرد

دمتحده ایالاتومقاماتویوسري دکلنټن دوژل کیدوپه تور و نیو

واشنګټن - دکب ۲ مه :

دمتحده ایالاتومقاماتودفلوریدا ایالت پوسري پدي تورن کړي دي چي دجمهوررئیس کلنټن دوژلو ګواښ ئي کړي وو .

دفلوریداد ایالت داولادودنباردمحکمي استاد شبې چي دغه سړي ۳۹ کلن رونالد دین بارتومیبري اوبویي کاره تیکسي چلونکی دي .

شهادت

دجهان شاداب سلام سیستیم / تابرومو گوتیه شهیدانو برو لیلا ملا مالکوشو
ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۷۵۲) سه شنبه (۳) حوت ۱۳۷۲ هـ ش

احکام دین خودرا بیاموزیم

روزه وحکم فدیه

"فدیه" درلغت به پول یامتاعي گفته میشود که اسرابراي رهایي خود آنرا میپردازند ،ولي فدیه دراصطلاح شریعت وقتي استعمال میشود که توان روزه گرفتن درشخص موجود نباشد ودربرابر هرروز یکنفر "مسکین "را طعام بدهد ویا معادل این طعام را به حاجت مندي بپردازد ،البته اگرکسي درمقدارفدیه زیادت میکند برمیزان ثواب وحسناتش خداوند زیادي میکند.

فقهاي اسلامي گفته اند؛ مریض به علت دفع حرج وضرروهمچنان سالخورده وپیري که بر روزه قدرت ندارند ، افطارکنند وفدیه بدهند .زیرااینگونه افراد ناتوان اند و امید قضاهم از آنهانیمرود وهمان فدیه فرضیت روزه آنها را کفاف میکند .

(بااستفاده ازمنابع مختلف)

الهي لارښوني

لوي خداي جل جلاله فرمایي :
هغه کسان چي خپل مالونه په شپي اوورځ کي په پټه اویا ښکاره نفقه کوي ، دهغوي لپاره دلوي خداي په نزد لوي اجر دي اونه په دوي باندي ویره شته اونه دي دوي غمګین کیږي .

(التوبه - ۲۷٤)

نبوي ارشاد

حضرت ابوامامه رضي الله عنه روایت کوي چي ما حضرت رسول الله صلي الله وسلم ته عرض وکړ چي داسي عمل راوښیه چي له امله یي الله تعالي ما ته اجر راکړي ، هغه صلي الله علیه وسلم وفرمایل چي روژه ونیسه دهغه په مثل بل هیڅ عمل نشته. (نسایي)

برادرحکمتیاربااعضای هیئت اصلاحي وبرخي از علماي کرام درولایت ننگرهار ملاقات نمود

جلال آباد - ۲ حوت :

برادرحکمتیار امیرحزب اسلامي افغانستان ظهرروزیك شنبه درشهرجلال آباد باهیئت اصلاحي بازدیدبعمل آورد .

گزارش خبرنگارشهادت حاکیست ؛ درین ملاقات که درفضاي دوستانه وصمیمانه برگزارشد داکترفاروق اعظم ، مولوي صدیق الله ، میامحمدآقا ،حاجي ارسلا وتعد : کثیري ازعلماي کرام شرکت داشته .

طبق گزارش، شرکت کنندگان بعدازانجام ملاقات ،مذاکرات رامفیدوسودمند ارزیابي نموده اظهارداشتند بحران جاري درکشوررا ، هاي حل آن وهمچنان استقرارصلح ازجمله موضوعاتي بودکه درین ملاقات مطرح بحث قرارگرفت علاوه برآن پیرامون وضع مهاجرین صحبت شدوطرق تهیه کمك به آنهاجستجوگردید .

قبل ازظهرروزدوشنبه باردیگربرادرحکمتیارصدراعظم کشور باهیئت اصلاحي بازدیدبعمل آورد. درین دورملاقات انجنیرقطب الدین هلال معاون اول صدارت ،وګرجنرال فضل حق مجاهد قوماندان قول اردو وعضوشوراي ننگرهار، انجنیرعبدالغفارعضوشوراي ننگرهارورئیس عمومي گمرك وعبدالهادي ارغندیوال رئیس امورمالي حزب اسلامي افغانستان همچنان درهیئت اصلاحي مولوي جلال الدین حقاني رئیس هیئت اصلاحي واعضاي آن هریك داکترفاروق اعظم ، مولوي صدیق الله ، قوماندان ارسلا خروټي، میامحمدآقا، ومولوي محمدحنیف اشتراك داشتند. درین دیدارمسایل عمده

ص (۳)

دنصیرالله بابرپه زیار(٦٠) ماشومان خوشي کړي شول

تروریستان په لاسي بمونو اوتومانچو مسلح دي

په خوشي شویوکسانو کي پنځه استاداني هم شاملي دي

پیښور - دکب ۲ :

له پیښورڅخه دشهادت خبریال خبراکوي چي ورمه ورځ سهارپه ۷ بجواو۳۰ دقیقودپیښوروله حاجي کیمپ څخه دریووسلوالوتروریستانو۷٤ متعلمین ،٥ معلمین اودوه دریوران دهغوي دسپرلي له موټرسره اسلام آبادته وتښتول . اووروسته له دریوساعتونو اسلام آبادته ورسول .

دپاکستان دکورنیوچارو وزیرنصیرالله بابرخبریالانوته وویل چي تروریستانوهغه کوله چي تیول شوي کسان دپاکستان دصدراعظمي بینظیربوټوکورته بوځي خوپولیسوپریښنودل ،نوځکه داسامیلي په مخکي ودریدل. اوپه دیرلږوخت کي پاکستاني پولیسو داسلام آبادمختلفي کوڅي اوسړکونه محاصره کړل . خبرونه وایي چي نوموړي تروریستان چي په لاسي بمونواوتفنګچومسلح وو دپاکستان دکورنیو چاروله وزیرنصیرالله بابرسره دري ساعته دموټرونه کي خبري وکړي اونصیرالله بابر بریالي شوچي له سختوهلوځلواودلایلووروسته ٦٠ متعلمین اوپنځه معلمین دتروریستانوله لاسه آزادکړي ، همدارازله خبروروسته تروریستان پدي راضي شول چي ۱٦

طي چهار روز ۱٦۹۸ نفراز قونسلگري پاکستان درجلال آباد ویزاگرفته است

پشاور ۳۰ دلو.

یك منبع وزارت داخله پاکستان این شایعات را ردنموده است که قونسل خانه پاکستان درجلال آباد دروازه خود را بروي متقاضیان ویزا بسته است. منبع گفت کسانیکه پاسپورت ودستاویزات قانوني داشته باشند ، میتوانند به آساني ویزا بگیرند.

روزنامه جنگ ۱۹ فبروري ضمن ارایه اینگزارش ازقول منبع مذکور مینویسد : که صرف ٤ روز یعني از ۱٥ الي ۱۹ فبروري جمعاً ۱٦۹۸ نفر ازقونسل خانه پاکستان درجلال آباد ویزا ،دخول به پاکستان راگرفته است. منبع علاوه کرد که بروي ملحوظات بشردوستي حکومت پاکستان به زخمي ها وبیمارانیکه ازطریق جلال آباد بخواهند وارد پاکستان شوند نیز اجازه دخول میدهد.

ازدوهفته به اینطرف ...

مایاحزب اسلامي وحزب وحدت درواقع جنگ برعلیه پاکستان وایران مي باشد".

بقول این مبصرین بانااکامي یي دربي ائتلافي هادرامورداري وامنیتي کشوراین احتمال بسیار قویست که جمهوري اسلامي ایران درزمینه دوام همکاري بااداره رباني وبانورن اسماعیل خان تجدید نظرکرده باشد.

دراینحال چنانکه خبررسیده؛ شام چهارشنبه احمد شاه مسعود قوماندان شوراي نظاروزیر دفاع اسبق باعلي رضاي حدادي " سفیر جمهوري اسلامي ایران درکابل ملاقات غیرمترقبه یي داشته است. اگر چه منابع ائتلافي محورمذاکرات احمدشاه مسعود وسفیرایران را بحث ومذاکره روي صلح وآتش بس دایمي درکابل دانسته اند ولي گفته میشود که مسعود درین ملاقات خواستار اعادهٔ همکاري هاي ایران بخصوص ازطریق بندراسلام قلعه وتورن اسماعیل خان شده است.

دحماس مسلمانو مبارزینو داردن سیند دحملي مسؤلیت په غاړه واخیست

تل ابیب - دکب ۲ :

دحماس دمسلمانومبارزینوډلي دتیري شنبي په ورځ داردن دسیند دلویدیزي غاړي دهغي حملي مسئولیت په غاړه اخستي چي یوه اسرائیلي حامله ښځه پکي ووژل شوه .

اسرائیلي مقاماتوویلي چي دغه ښځه له خپل میړه سره په یوه موټرکي کورته روانه وه چي وسله والوکسانوددوي په موټرډزي وکړي دحماس یوځي ځانګړي دغه رازوویل چي دادجوري په میاشت کي داردن دسیند په لویدیزه غاړه کي ددریوفلسطیني ماشومانودوژل کیدلوبدل وو .

دریوختیزو

محترم مولوي صاحب زبیر ، محترم مولوي صاحب عطاء الله ،محترم حاجي حضرت رحمن اومحترم توریالي هم شامل وو دهمدي ورځي په ماښام دغه هیئات دمحاذملي اسلامي له مشرمحترم پیرسیداحمدګیلاني سره دهغه په کورکي وکتل اوهم تي له هغه سره دماښام دوډي وخوړه.

خبرخاي لیکي چي دهیئت غړوله محترم پیرګیلاني سره دهیوادددروانوحالاتو په باب تفصیلي خبري وکړي اوهغوي له خپله اړخه دسولي دراوستوپه لاروچاروکي دادورکړ اوداکتنه دوروروي په فضاکي پاي ته ورسیده .

یك طفل خوردسال یافت گردیده است

طفل خوردسال که خود را اسدالله فرزند نوراحمد واسم مادر خود رافوزیه ،باشنده حصه سه خیرخانه شهرکابل معرفي نموده درپشاورازمادرش جداشده است. اولیاي طفل نامبرده به آدرس قصه خواني دهکي منورشاه - آریاتیلرز - بامعشوق خان درتماس شده طفل شان را بازیابند.

خوشخبري

کورس انگلیسي «چیلنجر» با۸۰ فیصد تخفیف ، همه روزه ازساعت ۱۲ الي ٤ شام ازتاریخ ۲۲ الي ۲۸ فبروري براي صنوف مختلفه شاگردمي پذیرد .

آدرس : چیلنجر TLC/IRC عقب تهانه تاون کوچه اول شاهین تاون

Londen English Language Centre

لندن انگلیش لنگویج سنتر

کورس انگلیسي لندن انگلیش لنگویج سنتر که باماهرین لسان ووسایل سمعي وبصري مجهز میباشد با: **۷۰ فیصد تخفیف**
شاگردمیپذیرد ،درین کورس برعلاوه تدریس فني لسان انگلیسي کورس هاي ابتدایي سایښسي غرض آمادګي شاګردان به کانکورنیز درنظرګرفته شده است .
علاقمندان میتوانند از ساعت (٦) الي (۸) شام براي ثبت نام به مرکز مراجعه نمایند .
تاریخ آخر ثبت نام (۳۰) فبروري تعیین شده است .
آدرس : نعمت محل ، نزدیك U.P.S سکول ،بالمقابل اسلامیه کالج جمرود رود.
تلیفون : ۸٤۲٥۱۱
(۲-۳)

دسرمقالي پاتي برخه

ملیونه امریکایي دالراویوهلیکوپترراکړي ، چي کابل ته مومصئون ورسوي، له دي ځخه په ډاګه کیږي چي تروریستان له افغانانوسره دژړه سوي په خاطرنه بلکي دافغانانواوپاکستانیانوترمنځ ددښمني داوربلولولپاره مامورشویدي .

په هرصورت موږهیله من یوچي دپاکستان حکومت به په تدبیرسره پاتي ماشومان هم ددغه وحشیانوله منګولوڅخه خلاص اوتروریستان به محاکمه کړي ترڅوترپوالوته داڅرګنده شي چي ددي پیښي ترشاڅومره لوي سازش پټ و.

کابل ته دلاروپرانستلوهڅه

یوه مسئله چي دمختلفو اړخونواوپه خاصه توګه دپاکستان اوملګروملتو، همدارازدسولي دهیئاتونوله خواعنوانیږي اوډیرزوریري اچوي، کابل ته دغذایي موادورسیدواولاروپرانستلوخبره ده،دغه موضوع ته که په سطحي نظروګورو واقعاً چي بشردوستي همداتقاضاکوي چي بایدټولي لاري پرانستل شي اودکابل ښاریانوضرورتونه پوره شي ولي که واقعیت ته خیرشونوزموږپه نظرخودلاروبي قیدو شرطه پرانستل درواني جګړي دلاوزیدو اوزیاتي مرګ ژوبلي باعث ګرځي . یله خبره داده چي مسعود- رباني اوکمونست اتحادیوالان بي کابل ته رسیدونکي غذایي موادواوتیل دخلکواوښاریانوپه اختیارکي نه ږدي بلکي هغه کوي دخپلو جنګیالیواودجګړي ددوام لپاره ذخیري جوړي کړي. تیروشلومیاشتوتجربو واقعیت ښه ترابه ډاګه کړي، چي کله هم کابل ته موادرسیدلي، درباني - مسعود باندپه ډیرلوړقیمت له بازارڅخه ټول کړي اوان چي دمرستي موادیي هم په خپلو جنګیالیو ویشلي دي، ځکه وایوچي کابل ته دلارو پرانستل دستونزي داوږدیدوسبب کیږي .

که له زړهٔ دوست هیوادونه ،ملګري ملتونه اودسولي هیئاتونه زموږله ملت سره خواخوږي لري نوبیه خبره داده چي دفضیي دښه‌جوړ‌ښت لپاره زیاروباسي چي ترڅوله یوي خوا دلارو ودایي اومصئون پرانستلوزمینه مساعده شي اوله بل لوري جګړه بنده اوسوله تأمین شي . ددي کارلپاره درباني استعفي اوټولوته دمنلووړمؤقت حکومت دجوړیدوضرورت دي نوبکارده چي داټول لاسونه سره یواوریاني استعفي ته مجبورکړي. خصوصاً چي دکاردپرمختګ‌لپاره دکابل دجهادي شوري طرحه دښه اساس په حیث موجوده ده.

ترکومه چي دکابل ښاریانودغذایي موادودستونزي خبره ده ، په دي هکله معقوله لاره داده چي په همامو ځایونوکي چي دهماهنګي شوري له خوا ټاکل شوي لکه ، دهمزنګ ،کارته سه ، چاده میوند اومکروریان کي دغذایي موادومارکیټونه جوړشي،پدي شکل دکابل ښاریان کولاي شي خپل ضرورتونه پوره کړي ولي جنګ غوښتونکي نشي کولاي دجګړي داوږدوالي لپاره ذخیري جوړي کړي .

زړه وړونکي - حیرانوونکي

ناتواني ماموران امنیتي ازکشف موادمنفجره

هفته نامهٔ ساندي تایمزدرشمارهٔ مورخ اول حوت خودنوشته است که ماموران امنیتي نتوانسته اندچهاربمب آزمایشي راکه دریك طیاره جاسازي شده بود درچهارپروازي که ازپایگاه ناتودرایتالیا به لندن صورت گرفته کشف نمایند.

این هفته نامه مینویسد،دستگاهاوافرادووزیده امنیتي مامورپازرسي وسایل مسافرین درپایگاهاي هوایي نتوانسته اند به موجودیت آنهاپي ببرند . گفته مي شودآزمایش هاي که ازین نوع بعمل آمده مساعي براي تضمین امنیت میدان هاي هوایي وطیارات بعمل میآید .

په انګلستان کي دډاکټرانوغوښتنه !

په چرسوڅکولوباندي باید بندیزونه ختم کړي شي

پدي وروستیوکي په انګلستان کي ډاکټرانوله حکومت څخه غوښتنه کړي چي په نشه یي څیزونوباندي بندیز مؤکړي شي اوپه چرسوڅویابندیبخي ختم شي .

په خبرونوکي ویل شوي چي ٪ ۷۰ ډاکټرانودغه مطالبه کړیده ویلي یي دي چي مونږته اجازه راکړي چي دناروغانو په تداوي کي له ځیني نشه یي موادوڅخه ګټه واخلو،خوځیني ډاکټرانوله دي غوښتني سره مخالفت کړي .

دغلط سوچ په وهلوسره دکمپیوترکنځلي

دلندن په یوښارکي یوکمپیوترهغه وخت اخستونکي پریشانه کړل چي دغلط سوچ په وهلوسره به یي په کنځلوپیل وکړ، دغه کمپیوترنوي نمایش ته ایښودل شوي وخو کله به چي دسوداګروله خواغلط سوچ ووهل شونوهم به په سکرین کنځلي ولیکل شوي اوهم به په مایکروفون کي دغه کنځلي اوریدل کیدي بالاخره یي کمپیوترله دوکان څخه لیري کړ.

دغابښ دویستوفیس ۳۲۰ پونډه

په انګلستان کي ډاکټران دوخت نه په استفادي دیوناروغ څخه چي مجبورشي دیوه غابښ ویستوفیس (۳۲۰) استرلنګ پوند ترلاسه کوي چي پدي حساب دیوغابښ ویستوفیس په انګلیسان کي دکلداروپه حساب ۱٤٤۰۰ کلداري کیږي . (جنګ راولپنډي ۱۹ فبروري)

ازدواج درصدسالگي

پیرمردي یکصدساله دریك شهرك کوچك پولیندمراسم ازدواجش باخانم ٥٥ ساله اي را درتالاراین شهرك برگزارنمودکه باعث تعجب مسئولین و حاضران محفل گردید.

آژانس خبري پولیند(پي . اي . پي) روزجمعه اول حوت اخیراً گزارش داد یك مقام مسئول شهرك لوبین ازتوابع جنوبي پولیندکه محل زادگاه این دوهمسروهمچنان محل برگزاري مراسم عروسي شان نیزمیباشد اظهارداشته است. آنهاازافشاي نام هاي شان به افرادیکه قبلاً باایشان معرفت نداشتند ، خودداري نموده اندتاازمبارکباد ! آنهادرامان باشند

۳۷۰۰ افغان در

(۹۰) هزارزنداني (۳۷۰۰) افغان نیز در زندانهاي ایران ایام حبس خود راسپري میینمایند. وي ازیك عده اتباع کشورهاي دیگر که اسم وتعداد آنها راذکرنکرده نیز یادآورشدکه درایران محبوس مي باشند.

#####

اخبارکوتاه جهان

دبرتانیي اوآیرلیندصدرعظمانوویلي چي دآیرلیند دسولي خبري به په هرصورت کي مخ په وړاندي ځي .

دبرتانیي صدراعظم په لندن کي له خبروکولووروسته وویل چي هیڅوك به ونشي کولاي چي ددي خبرودپرمختګ مخه ونیسي .

* * *

په جنوبي افریقاکي نامعلوموکسانو دافریقا دملي کانګریس ١٤ کسه ځلمي کارکونکي وژلي دي .

دافریقادملي کانګریس نطاق وایي چي دوژل شویوکسانوعمرله ۱۲ څخه تر۱۷ کلونوپوري دي .

* * *

ایران دملګروملتونودتحقیقات ګوونکوهغه رپوټ چي وائي په ایران کي دبشردحقوقوڅخه سرغړوني کیږي بي ځایه بللي .

داریوټ چي دملګروملتونوله خواترتیب شوي په ایران دا تورلګوي چي ۲۰ زره ښځي اومذهبي شخصیتونه ئي بندیان ساتلي .

* * *

هنداوپاکستان په راتلونکي اوني کي دکشمیرپه موضوع یوله بل سره خبري کوي .

دپاکستان دبهرنیوچارو دوزارت نطاق ویلي چي پدي خبروکي به دپاکستان له لوري په هندکي دپاکستان عالي کشنراوورسره پاکستاني دیپلومات برخه اخلي .

* * *

سوریه ازرئیس جمهورامریکاخواست به وعده هاي ماه گذشته اش دردیداربا حافظ اسدعمل کند.

اسوشیتدپرس به نقل ازروزنامه دولتي الثوره ازدمشق گزارش داد امریکاباید خودرا به انجام تعهدات کلنتن دراجلاس ژنو متعهدبداند .

* * *

۱۳ تبعه انګلیس که دربازداشت مردان مسلح سومالیایي بودند دیروزآزادشده وبه جیبوتي اعزام خواهندشد.به گفته کارگران سازمان ملل هفته گذشته دوصدنفرازشبه نظامیان سومالیایي این افرادرا به گروگان گرفته بودند

* * *

مدیراجرایي اتحادیه ملي مکاتب نسوان امریکا اظهارداشته که علاقه دختران جوان به ثبت نام درمدارس خاص دختران افزایش یافته است .

وي تصریح کرده تعداد دختران جوانیکه ازمکاتب ابتدایي تالیسه درینگونه مکاتب ثبت نام کرده اند ٦ درصدافزایش یافته است .

تازه هاي علم وفن

دستگاه معاینه بیماران ازراه دور ایجاد گردید

ریاض-اول حوت

براي اولین بار یك تماس مخابره اي دستگاه ، ایکه قادراست تمام عوارض موجوددربدن یك مریض راهمراه باتصویر،به نقاط دورمخابره نماید جدیداً ابداع شده وبراي اولین بار دیروز ازیك مرکز طبي در ریاض با دانشگاه ماساچوست ایالات متحده تماس قایم نموده است.

صداي امریکاگفت :داکتران دانشگاه ماساچوست تشخیص واطلاعات موصوله توسط این دستگاه رابسیارموفق دانستند .آنها گفتند : اطلاعات مذکور همان قدرکافیست که مریضان اینجا نزد مامي بودند .

بافعال شدن این دستگاه اکنون امکان آن پیداشده که مریضان ، براي معالجه امراضیکه رسیدگي به آن دریك نقطه ممکن نیست رنج سفر به کشورهاي دیگر را برخود هموارنکنند .ومریضانیکه بي بضاعت هستند حداعظم ازاین تسهیلات بهره ببرند.

زنگ خطر

ذوق مطالعه درجوانان بسیارکم شده میرود .

چیرومشکلات امروزي بالاي نوشته‌سایه [illegible] افگنده ویکتوریع میخانکیت رابه آثارقلمي وارد ساخته است.

انور سجاد داستان [illegible] نویس مشهورپاکستان مطلب بالا رادرمحفلي که به مناسبت نشر مجموعه داستانهاي تازه اوبه‌اسم " قصه هاي نو " دایرشده بود ، اظهارداشته‌است.

این داستان نویس که تجارب خودرادرطرق تحریك ذوق خوانندگان براي سایر ادبا وهم مسلکان خودتشریح میکرد خاطرنشان ساخت که توجه بمسایل مادي وسیاسي [illegible] ،مهارتهاي ادبیرادرآثار کم کرده است ، وباین علت است که ذوق جوانان بمطالعه کم شده میرود.

انورسجاد به مسؤلین امورتعلیم وتربیه مشوره میدهدکه دورشدن جوانان ازمطالعه انحرافات رازیادمیکند واگر این جریان متوقف نشود بزودي [illegible] خطرناك میشود . به این منظور ارباب تعلیم وتربیه بایدذوق ادبي رادرشاگردان زیاد کنند و درنصاب تعلیمي به آموزش مهارتهاي ادبي نقش زیاد وتعیین کننده قایل شوند.

یك کشف مهم دیگردردنیاي نجوم

دانشمندان به یکي ازکشف هاي مهم [illegible] اخیراً درعلم نجوم دست یافتند .

گزارش خبرگزاري فرانسه حاکیست: پژوهشگران مرکز فضایي (گردارد) درامریکا به بروسي اطلاعات مخابره شده از رصد خانه اشعه گاما درفضا که یك ماهواره متعلق به" ناسا" است ،اعلام کردند ، انفجار هاي عظیم اشعه گاما درتمام کاینات روي میدهد و مختص به کهکشان راه شیري نیست .

ماهواره هاي نظامي در دهه ۱۹٦۰ میلادي انفجار هاي اشعه گاما راکشف کردند .تاکنون گمان میرفت که‌منشاء این انفجارهادرکهکشان راه شیري باشد. درکشف جدید ثابت ش ، است این پدیده درتمام عرصه کائنات ودرفاصله هاي بي نهایت دورنیز روي میدهد.

شهادت
بیانگرعقایدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظرهیئت تحریر
پست بکس : ۱۰۳٦ یونیورسټي ټاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکنوري
حساب بانکي:۸٥۲٦٤ دافغانستان‌بانك
تلیفون : ۲۹۲٦